Tittel: Koronavaksine til gravide
Språk: Pashto
Opprettet: 01.12.21 Oppdatert: 16.02.22

NIPH
Norwegian Institute of Public Health

# د بلاربو ښځو لپاره د کرونا ویروس واکسینونه

د کوویډ – **19** واکسینونو په اړه د ناروې د عامه روغتیا انسټیټیوټ لخوا لنډ معلومات.

---

**د کوویډ – 19 په اړه**

ډیر احتمال شتون لري چې بلاربې ښځې په کوویډ – 19 شدید ناروغۍ اخته شي. هرڅومره چې یوه ښځه په خپل بلاربتوب کې پدې ویروس اخته شي، هغومره یې د شدید ناروغیدو خطر ډیریږي. د ناروې د عامه روغتیا انسټیټیوټ د همدې لپاره سپارښتنه کوي چې بلاربې ښځې د کرونا ویروس واکسین دوه دوزونو په کولو سره خپل ځانونه محافظت کړي.

**مشوره:**

ټولې بلاربې ښځې چا چې د واکسین لومړنۍ لړۍ نه وي کړي باید وې کړي. دا د تریمستر په پام کې نیولو پرته پلې کیږي.

- بلاربو ښځو ته سپارښتنه کیږي چې تقویتي دوز هم وکړي. دا په ځانګړې توګه د بلاربو ښځو لپاره په دوهم یا دریم تریمستر کې مهم دي کله چې د هغوی د لومړي دوز څخه د 20 اونیو نه ډیر وخت تیر شوی وي، او د هغه بلاربو ښځو لپاره د هغوی لومړي تریمستر کې که چیرې ځینې ځانګړې ناروغۍ ولري.

**شالید**

د بلاربو ښځو د کرونا ویروس واکسین په اړه د ناروې مشوره په مور او ماشوم د واکسین د اغیزې په اړه د ډیرو معلوماتو او پوهې وروسته وړاندې کیږي. کوم څه چې مور د واکسین د اغیزو په اړه پوهیږو اساساً د نورو هیوادونو څخه ترلاسه کیږي. د مثال په توګه، انګلستان د اوږدې مودې لپاره د دې ناروغۍ د لوړې اغیزې لاندې و، او ډیری بلاربې ښځې روغتون کې بستر شوې وې.

نړیوال مطالعات ښئ چې په کوویډ – 19 اخته شوې بلاربې ښځې د ورته عمر وچو ښځو (هغه ښځې چې بلاربې نه وي) پرتله روغتون کې د بستر کیدو لوړ خطر لري او تنفسي ملاتړ ته اړتیا لري. تنفسي ملاتړ ته اړتیا لرونکو هغو کې د کرونا ویروس په ټولو ښو اخته ښځو تناسب ډیر دی. همدارنګه د هغه ښځو پرتله چې د بلاربتوب ورته مرحله کې د کوویډ – 19 تایید شوې پیښه ونلري پدې ویروس د اخته بلاربو ښځو ترمینځ د بې مودې زیږون خطر هم لوړ دی. په مکمل ډول واکسین شوي بلاربو ښځو کې د ساه اخیستلو مشکلات او د بې مودې زیږون خطر ټیټ دی.

دا مطالعات په مور کې د شدید ناروغۍ پرورانډې د واکسین محافظتي اغیزه ښئ او د واکسین په مرسته د محافظت کیدو اهمیت تاییدوي که امکان ولري. د واکسین وروسته د مور په واسطه تولید شوي انټي باډیز جنین ته هم انتقالیږي نو د زیږون وروسته به ماشوم هم محافظت شوی وي. هیڅ مطالعه سپارښتنه نه کوي چې واکسین په بلاربتوب یا جنین باندې منفي اغیزه لري.

**جانبي عوارض**

خورا عام جانبي عوارض لکه د سر درد، ستړیا، د ښه والي احساس نه کول، تبه، زړه بدی او د بدن دردونه په بلاربو ښځو کې هم عام دي. علایم یې ډیری وختونه د واکسین نه وروسته په لومړۍ یا دوهمه ورځ راښکاره کیږي او شاوخوا 3-2 ورځو لپاره دوام کوي. په ناروې کې د استعمال لپاره تایید شوي واکسینونو کې د بلاربتوب اړوند کوم ځانګړي جانبي عوارض ندي پیژندل شوي.

**زه چیرته د کرونا ویروس واکسین کولی شم؟**

د خپلې قابلې یا ډاکټر نه پوښتنه وکړئ یا د خپلې ښاروالۍ ویب سایټ وګورئ چې پدې اړه معلومات ترلاسه کړئ چیرې کولی شئ د کرونا ویروس واکسین وکړئ.

**نور معلومات**

د بلاربو ښځو او ماشومانو ته تي ورکونکو ښځو لپاره د مشورې په اړه نور معلومات د کرونا ویروس لاربنود کې ومومئ:

https://www.fhi.no/nettpub/coronavirus/befolkningen/rad-for-gravide-og-ammende/